مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

حُسن مبارک شاغاسی ۲۰۲۱/۰۲/۱۷

سردار حاجي جمال خان بارکزی

حاجی جمال خان بارکزائی

سردار حاجي جمال خان بارکزی د دُرانو د هغو مشرانو له ډلي څخه یو سرلاری مشر و چي د نادر شاه افشار په وړاندي د درانه نسب او لوړ منصب خاوندان ول او افشار ورته د مشرتابه په سترګه کتلي وه [1]. د سردار حاجي جمال خان نیکه د مشرتوب زمانه د کندهار په ښار کښي د ملي قاید حاجي میرویس خان نیکه په لاس د یوه ملي حکومت د تأسیس د نېټي سره برابره ده [2]. د لوی ټولواک احمد شاه بابا ابدالي د سلطنت پر مهال د ابدالي او غلجي قومونو په مشرتوب یو، یو ملي مشر ټاکل کېدئ، نو سردار حاجي جمال خان په رسمي توګه د بارکزیو د قوم د خان، سردار او مشر په توګه وټاکل سو [3]. کله چي افغان قبایلو د کندهار د (**شیر سرخ**) په جرګه کښي د نوي افغانستان د زعامت پر سر باندي خبري کولي، سردار حاجي جمال خان نیکه هغه لومړنی مشر و چي د احمد خان ابدالي (وروسته احمد شاه بابا ابدالي) زعامت یې ومانه او د بیعت لاس یې ورکړ [4].

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

او لکه څنګه چې دروند لیکوال احمد علي کهزاد په خپل کتاب (**رجال و رویداد های تاریخي**) کښې هم لیکلي دي، حاجي جمال خان د بارکزیو د ستري او غښتلي قبیلې د مشر په توګه د زعامت لپاره د ټاکل کېدونو مشرانو په ډله کښې ستر چانس درلودئ، خو دې متصوف او متورع مشر خپل شخصي اغراض (چې نور ټول مشران په اخته ول) تر پښو لاندې کړل او پاچا ته په بیعت کولو یې د (سدوزیو) د ابدالي (دُراني) دولت بنسټ او اساس متسحکم کړ او په خپل دې خود ګذرۍ یې د ستایلو وړ ستره بېلګه په یوه ډېر حساس وخت کښې د افغانسان په تاریخ کښې ثبت کړه. ځکه نو حاجي جمال خان بارکزی د خپل ژوند تر پایه پوري د خپل معاصر پاچا لوی احمد شاه بابا د ستر مشاور او وزیر په توګه پاته سوی دئ. او احمد شاه بابا هم د خپل ژوند تر پایه پوري د دې خیرخواه سپین ږیري درنښت د هغه د شان او مقام په تناسب کاوه او د خپل حکومت، سلطنت او مملکت دارۍ ټولې چارې یې د سردار حاجي جمال خان بارکزي په مشوره او صوابدید ترسره کولې [5]. سردار حاجي جمال خان بارکزی د حاجي یوسف خان (توپچي باشي) زوی، د محمد سرور خان (یارو) لمسی، د یعقوب خان کړوسی، د اختیار خان کوسی او د محمد نیکه کودی دئ (**له دې ځایه محمدزی دئ**) [6].

محمد خان نیکه چې د محمدزو د قبیلې مورث اعلی بلل سوی دئ په زرم هجري کال (1591 میلادي) په حدودو کښې یې د کندهار په ارغسان کښې ژوند کاوه او د عمر خان نیکه زوی و (**نو جمال خان نیکه له دې ځایه عمر خانزی هم دئ**)، محمد نیکه د بارکزو د محمدزو د ځانګې مؤسس اعلی او لوی نیکه دئ او قبر یې هم د کندهار په ارغسان کښې دئ [7]. د عمر خان نیکه بل زوی او د محمد نیکه ورور، محمد یاسین خان عمرخانزی و، څوک چې د شهزاده همایون دُراني د ځانګړي سفارشنامې په ترڅ کښې د کندهار څخه کابل ته واستول سو او د اعلیحضرت تیمور شاه دُراني په فرمان په دولتي چارو کښې شامل سو او وروسته یې لمسي، د بازار خان زوی؛ میرداد خان بارکزي د بارکزو د شاغاسیانو (شاغاسي) خاندان بنسټ کښېښود [8]. په دې اړه نور معلومات د (**شاغاسیان څوک دي**) په مقاله کښې د منډیګک ویب پاڼې پر دې لینک:

https://mundigak.com/2020/09/01

ولولئ. هېره دې نه وي چې اعلیحضرت امیر امان الله خان غازي له پلاره (محمدزی) بارکزی او له موره (شاغاسی) بارکزی دئ، چې پلرنۍ او مورنۍ شجره یې د بارکزو په (**عمرخانزو**) کښې سره یوځای کېږي [9].

عمر خان، د خضر خان زوی، د اسمعیل لمسی، د نیک کړوسی، د دارو کوسی او د سیفل نیکه کودی دئ (**د جمال خان نیکه شجره له دې ځایه سیفلزو ته رسیږي**)، او سیفل نیکه د نورالدین زوی او د **[بارک]** نیکه لمسی دئ (**ځکه نو سردار حاجي جمال خان نیکه بارکزی دئ**) [10]. مؤرخینو د سردار حاجي جمال خان بارکزي د زېږېدو کال (۱۰۹۸ ه ق) چې د (1686 میلادي) سره سمون لري ښودلی دئ، او مړینه یې د ستر ټولواک احمد شاه بابا ابدالي (۱۱۶۰ – ۱۱۸۶ ه ق) تر وفات دوه کاله وړاندې یعني په (۱۱۸۴ ه ق) چې د (1770 میلادي) کال سره سمون لري په ګوته کړې ده. د بارکزو دې دروند مشر چې د یوولسمې هجري پېړۍ په پای کښې یې د هلمند د نادعلي د کلي د بارکزو د مشرۍ څخه پیل کړې وه، د مړیني پر وخت یې عمر په قمري حساب (۸۶) کاله و او قبر یې د کندهار په ذاکر شریف کښې دئ [11].

سردار جمال خان بارکزی په تاریخي متنونو کښې تر ډېره په حاجي جمال خان له دې یاد سوی دئ چې د یو دروند او معزز مشر، خان، سردار او ستر مشاور په توګه د ستر ټولواک احمد شاه بابا ابدالي له خوا بیب الله شریف ته د حج لپاره واستول سو ځکه په اولس کښې په حاجي جمال نیکه مشهور سو [12]. دا متصوف، متورع، خیرخواه او دروند مشر همدا راز د بارکزو د (محمدزو) د ځانګې ټولو مشرانو، شاهانو او واکمنانو ته لکه امیر دوست محمد خان، امیر شیر علي خان، امیر محمد افضل خان، امیر محمد اعظم خان، امیر محمد یعقوب خان، امیر عبدالرحمن خان، امیر حبیب الله خان، غازي امان الله خان، عنایت الله خان، محمد نادر خان، محمد ظاهر شاه او سردار داود خان ته د هغوی د پلار، نیکه، غور نیکه، او تر نیکه په توګه دروند، معزز او محترم و. ځکه نو امیر شیر علي خان له دې چې د نسب سلسله یې تر سردار حاجي جمال خان بارکزي پوري په تاریخ کښې ثابته پاته سي خپل د تقریرونو لومړۍ خاتمه په دې بیت آراسته کړې وه:

جمـال دولـت پـاینده قسمت ازلیست
وصی دوست محمد امیر شیرعلیست

په دې بیت کښې امیر شیر علي خان خپل د پلار (**امیر دوست محمد خان**)، نیکه (**سردار پاینده خان محمدزي**)، او غور نیکه (**سردار حاجي جمال خان بارکزي**) نومونه په ډېر درنښت، ستر پاس او لوړ ویاړ ذکر کړي وه [13].

سردار حاجي جمال خان بارکزي دوه ودونه کړي وه، لومړنۍ مېرمن یې یوه بارکزۍ ښځه او دویمه یې یوه غلجۍ ښځه وه. سردار حاجي جمال خان بارکزي څلور زامن د هارون خان، بهادر خان، سردار رحیمداد خان (مشهور په سردار بارکي) او سردار پاینده خان (مشهور په امیرالامرا سرفراز خان) په نومونو او یوه لور چې د تیمور شاه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دُراني سره يې واد کړی و درلوده. معصوم هوتک په (**کندهاري ورونه**) کتاب کښې د هارون خان او بهادر خان مور (بارکزی)، او د سردار رحیمداد خان او سردار پاینده خان مور (غلجی) ښودلې ده [14]. خو محمد قاسم رشتیا په (**افغانستان در قرن نزده**) کتاب کښې سردار رحیمداد خان او سردار پاینده خان له موره هم بارکزي ښودلي دي او لیکلي یې دي چې دوی د یوبل سره سکه ول او مور یې هم (بارکزی) وه [15]. او له دې چې هوتک د سردار حاجي جمال خان بارکزي لور د سردار پاینده خان سکه خور او د تیمور شاه دُراني مېرمن ښودلې، نو ښايي چې د رشتیا خبره د سردار رحیمداد خان، سردار پاینده خان او د دوی د خور او سکه توب په اړه رښتیا وي.

اخځلیکونه:

[1]: فیض محمد کاتب هزاره، سراج التواریخ، ج2، مخ196
[2]: عبدالحی حبیبي، شل مقالي، ج4، مخ53
[3]: عزیزالدین وکیلي پوپلزی، تیمور شاه دُرانی، ج2، مخ645
[4]: محمد معصوم هوتک، کندهاري ورونه، مخ4
[5]: احمد علي کهزاد، رجال و رویداد های تاریخي، مخ77
[6]: سید قاسم رشتیا، افغانستان در قرن نزده، مخ1
[7]: عبدالحی حبیبي، د افغانستان معاصر تاریخ، مخ279
[8]: عزیزالدین وکیلي پوپلزی، تیمور شاه دُرانی، ج2، مخ686
[9]: عزیزالدین وکیلي پوپلزی، نگاهی بتاریخ استرداد استقلال، مخ5
[10]: محمد حیات خان، حیات افغاني، مخ183
[11]: محمد معصوم هوتک، کندهاري ورونه، مخ3
[12]: فیض محمد کاتب هزاره، سراج التواریخ، ج2، مخ196
[13]: عزیزالدین وکیلي پوپلزی، تیمور شاه دُرانی، ج2، مخ645
[14]: محمد معصوم هوتک، کندهاري ورونه، مخ4
[15]: سید قاسم رشتیا، افغانستان در قرن نزده، مخ3

حُسن مبارک شاغاسی
۱۳۹۹-۷-۲۴ ه ش (2020/10/15 میلادي).

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ